مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

نجیب منلی ۲۰۱۹/۰۱/۰۲

# د انتخاباتو ځنډېدل،

# تاواني لوبه

د ټاکنو «خپلواک» کمیسیون د ولسمشرۍ ټاکني و ځنډولي او لاپه يي وکړه چي ځلور ټاکني به په يوه ورځ له مخکي ټاکل شوې نېټي درې مياشتي وروسته کوي.
کمیسیون د خپلي پرېکړې په توجيه کي ډېرې پلمي او بهاني ذکر کړې دي چي يوه يې په ژمي کي ساړه او يوه بله يي د کمیسیون د وړتياوو کموالی دی.
د ژمي او يخنی خبره د کمیسیون له خوا پر ځان او پر ملت ملنډې وهل دي: کله چي څو ورځي د مخه کمیسیون د حمل ۳۱ د انتخاباتو له پاره وټاکله، هغه مهال دوی نه وو خبر چي په ژمي کي د افغانستان په ګڼو سيمو کي هوا سړه وي. هغه کومي نوي څېړني وې چي دا ستر واقعيت يې د يوې اونۍ په ترڅ کي را برسېره کړ؟
د کمیسیون د وړتياوو خبره هم په زړه پورې ده: د ملي يووالي د حکومت له جوړېدو، د کمیسیون د اصلاحاتو خبره مطرح وه. د ميزان په مياشت کي پارلماني ټاکني وشوې چي نتايج يې تر اوسه نه دي اعلان شوي. دا د کمیسیون د اوسنيو وړتياوو عيني انځور دی. په دريو مياشتو کي به کومې داسي معجزې وشي چي همدغه کمیسیون خپله وړتيا دومره لوړه کړي چي هم مهاله به ځلور بېلابېلي ټاکني په برياليتوب تر سره کړي.
حکومت هم په خورا جرأت داسي ځرګندوي چي ګواکي د کمیسیون پر پرېکړو هېڅ ډول مستقيم او غير مستقيم اغيز نه لري خو د هرې پرېکړې په درشل کي د حکومت او کمیسیون تر منځ پټي او نيمه ښکاره ناستي کېږي.
د کمیسیون خپلواکي هماغومره د باور وړ ده لکه د ټاکنو د ځنډولو له پاره چي د کمیسیون توجيهات د باور وړ دي، نو په دې خبره کي چندان شک نه پاتي کېږي چي حکومت او کمیسیون په ګډه د يو بل څه په لټه کي دي. دا «بل څه»، څه کېدای شي؟
هغه ډلي او اشخاص چي په ټاکنو کي ونډه اخيستل غواړي، ځانونه له حکومت او برحاله ولسمشر سره په تناظر کي ګوري. په بل عبارت د ولسمشر له ټيم پرته نور ټول کانديدان په يو ډول ځان له ولسمشر سره په رقابت کيويني. دوی داسي انګېري، يا لږ تر لږه داسي ادعا کوي، چي ګواکي حکومت ټاکني د دې له پاره ځنډوي چي په ټاکنو کي د لاپراخو درغليو له پاره نوي تدابير ونيسي چي د اوسني ولسمشر بيا ټاکل کېدو ته لار هواره شي.
د انتخاباتو او په انتخاباتو کي «انجنيرۍ» هغه څه دي چي لا تراوسه يي دقيقه فارمولم نه ده موندل شوې. هر څوک له خپل وس سره سم هڅه کوي د واقعي رايو په نسبت د ځينو تخنيکي «چلونو» په مرسته د رايو د صندوقونو محتوا په خپله ګټه بدله کړي. د ۲۰۱۴ کال د رايو پاني، د نړېوالو څارونکو په حضور کي، بيا بيا وشمېرل شوې. هغه واقعيت چي ټول پرې خبر دي او هېڅوک يي منلو ته غاړه نه ږدي، دا دی چي دواړو ټيمونو، علی السويه، درغلي کړې وه چي په وروستيو پايلو کي د دواړو لورو درغلی سره خنثی شوې او د حکومتي واک وېشلو ته مصنوعي لارې جوړې شوې. په وروستيو پارلماني ټاکنو کي، د يو ډېر ساده لوحانه تحليل پر بنسټ، داسي وانګېرل شوه چي د نوو تخنيکي وسايلو کارول به په تخنيکي ډول د درغلی مخه ونيسه. واقعيت بل رنګ شو. د نوو تخنيکونو کارولو، په ټاکنو کي، د درغليو سپينول لا ستونزمن کړل. په داد سره ويلای شو چي په راتلونکو ټاکنو کي به هم د تېر په څېر د درغليو هڅه کېږي او د ټاکنو پايلي به په يو ډول نه يو ډول بې اعتباره کېږي.
تېرو تجربو ته په کتو، د انتخاباتو د انجنيرۍ پروسه، سل په سلو کي له ناکامی سره مخ کېږي او دا لوبه «د صفر جمعي لوبه» بلل کېدای شي چي هېڅ ګټونکی نه لري، خو واقعيتونه ممکن بل لوری ونيسي.
د ټاکنو ځنډول، په هر موخه چي وي، د حکومت په تاوان لوبه ده. په افغانستان کي د واک پروړاندي ټولنيز-سياسي برخورد، همېشه د ولسي ملاتړ برخورد دی. د تاريخ په اوږدو کي، افغانانو همېشه د برحاله حاکم ملاتړ کړی دی، که دا ملاتړ په فعال ډول د مشر تر شا د درېدلو له لارې وي او که په انفعالي ډول د مشر د مخالفينو سره د نه يوځای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کېدلو له لارې. په افغاني ټولنه کې د واک د لېږد له پاره یوازې دوه ممکني طریقې وجود لري: یا به برحاله واکمن په زور او قهر له واکه لوېږي او یا به په طبیعي ډول (په اکثرو مواردو کې د واکمن مړینه او په یو مورد کې قانوني ممانعت) واکمن بل واکمن ته ځای پرېږدي. تر اوسه داسې نه دي شوي چې کوم واکمن دې په خپله خوښه واک پرې ایښی وي.
د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې ښاغلي کرزي دا قانوني امکان درلود چې په واک کې پاتې شي او د امریکا د صریحې مداخلې سره سره، په واک کې پاتې شو. په ۲۰۱۴ کال کې ښاغلي کرزي په واک کې د پاتې کېدو قانوني حق نه درلود نو ځکه، له ستونزو سره سره، د واک لېږد ممکن شو او ښاغلی غني په سوله ییز ډول واک ته ورسېد. د ښاغلي کرزي له خوا وړاندې شویو کاندیدانو هم د ولس قناعت حاصل نه کړ.
که د ټاکنو پروسه په خپل طبیعي سیر کې پاتې شوې وای، نو د افغانستان سیاسي تاریخ ته په کتو، د ولسمشر غني په قدرت کې پاتې کېدل حتمي وو. د تاریخي ټولنیز-سیاسي برخورد له مخې رقیبو شخصیتونو لا خپل ولسي مشروعیت نه و تثبیت کړی، او په واک کې ولسمشر د عام ملاتړ د ساتلو له پاره پر ټوله دولتي دستګاه تکیه کولای شوه. له بل لوري، د ولسمشر رقیبانو ډېر وخت له لاسه ورکړی دی. که چا واقعاً غوښتل چې په انتخاباتو کې د ګټونکي درېځ خپل کړي نو ورته په کار وه چې کم له کمه یو کال، یا تر هغه زیات یې له ولسونو سره تماس نیولی وای او خپلې طرحې یې ورسره شریکې کړې وای. دا کار هېڅ یوه احتمالي کاندید و نه کړ.
د ټاکنو د تقویم لومړي ځل اعلان احتمالي کاندیدان دې ته اړ کړل چې میدان ته راووځي. که ټاکنې په خپل طبیعي بهیر کې پاتې شوې وای نو رقیبانو یوازې څو اونۍ وخت درلود چې ولس سره خپل سیاسي نظریات شریک کړي. اوس چې احتمالي کاندیدانو خپل نیتونه څرګند کړي دي، هر څومره چې ټاکنې ځنډېږي هماغومره په واک کې د ولسمشر غني بقا تر ګواښ لاندې راځي.
د ولسمشر رقیبو کاندیدانو ته په کار دي چې له دې فرصت څخه استفاده وکړي او خپلې تېرې شوې تورې بېرته په تېکي ننه نه باسي. که څه هم مشکله ده چې یو اوږد سیاسي دود په څو میاشتو کې بدل شي، مګر د حکومت دغه بې پامه اقدام یوه لار پرانیسته چې تاریخي بدلونونه هم شوني کوي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ